د افغانستان اسلامي جمهوریت
د کابینې مصوبه
(۷) ګڼه
نیټه ۱۳۹۹/۳/۱۲

د افغانستان اسلامي جمهوریت د ۱۳۹۹ کال کابینې اوومه غونډه په فوق العاده توګه د جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني په مشرۍ د غبرګولې میاشتې په (۱۲) نېټه دوشنبې په ورځ له غرمې مخکې د کابینې غړو او والیانو په ګډون د ویډیویي کنفرانس له لارې په ارګ کې جوړه او دغه پرېکړې یې وکړې.

**جلالتمآب ولسمشر پیلیزې خبرې او له اجنډا مخکې ځینې مهمې موضوع ګانې:**

- د کابینې هغو غړو له کړنو څخه مننه او د بریالیتوب هیله څرګندول،چې د کابینې غړي په توګه یې دنده پایته رسیدلې ده.
- ا.ا.ج د درې ګونو قواوو ترمنځ د اړیکو تنظیم روښانه طرحې پر اړتیا ټینګار ؛
- د جینوا راتلونکي کنفرانس ته د هیواد د ژمنو راپور بشپړ چمتوالي په موخه د دولتي بنسټونو په کړنو کې روڼتیا او هر ډول اداري فساد سره په مبارزې تمرکز؛
- په هره اوونۍ کې د دوشنبې په ورځې د کابینې غونډو تنظیم له امله د جمهوري ریاست چارو اداري لوی ریاست ستاینه او د لومړیتوبونو په بنسټ د جمهوري ریاست چارو اداري لوی ریاست کابینې چارو سمون ریاست ته د موضوع وړاندې کولو په موخه د دولتي ارګانونو ته دنده سپارل؛
- د کرونا وېروس په وړاندې د مبارزې په موخه د اخیستلو شویو ګامونو له امله د والیانو څخه مننه کول؛

**د اجنډا لومړی موضوع:** له قرنطین حالت څخه په تدریجي او پړاوونو توګه د وتلو او کمولو طرحه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال ؛

| | **د کابینې پرېکړه :** | موده |
|---|---|---|
| ۱ | له قرنطین حالت څخه په تدریجي او پړاوونو توګه د وتلو او کمولو طرحه د تصویب وړ ونه ګرځیدله؛ عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې یاده طرحه د اړونده بنسټونو په مرسته د دریو ورځو په موده کې د طرحې سرلیک، په پړاوونو او منځپانګې( محتویاتو) بیا ځلې کتنې، په ملکي ادارو کې د کاري نوي رژیم سره سمون، د فابریکو، صنعتي شرکتونو، ښوونځیو او پوهنتونونو بیا پیل څرنګوالي ته په بیا کتو سره سمه؛ د عمل او پوهاوي ورکولو پلانونه یې چمتو او د کرونا وېروس خپراوي څخه د مخنیوي بیړنۍ کمیټې ځانګړې غونډې له تائید وروسته دې د اصلاح شوې طرحې سره یو ځای د کابینې بلې غونډې ته وړاندې کړي. | عاجل |

**د اجنډا دویمه موضوع:** د کرونا ویروس سره د مبارزې په موخه د بهرنیو بنسټونو مرستو د چتر (سقف) منظوري ټاکلو څرنګوالی؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د جمهوري ریاست چارو اداري لوی رئیس

| | **د کابینې پرېکړه :** | موده |
|---|---|---|
| ۲ | د مرستو جذب په بهیر کې د اسانتیا او چټکوالي رامنځته کیدو په موخه د کرونا ویروس سره د مبارزې لپاره د بهرنیو بنسټونو مرستو وړاندیز شوی چتر (سقف) په لاندې توګه تصویب ده:<br>• ا.ا.ج کابینې په وسیله له (۸۰ ) اتیا میلونه افغانیو څخه پورته ارزښت لرونکو مرستو منظوري واک؛<br>• د مالیې وزارت سره په همغږۍ د وزیرانو په وسیله د (۸۰ ) اتیا میلونه افغانیو ارزښت لرونکو مرستو منظوري واک؛<br>• د مالیې وزارت سره په همغږۍ د والیانو او دولتي ادارو لویو رئیسانو (خپلواکه بودجوي واحدونو) په وسیله د (۳۰ ) ملیونه افغانیو ارزښت لرونکو مرستو منظوري واک؛<br>وزارتونو او دولتي ادارو ته دنده سپارل کیږي، چې د مالي مرستو لګښتونو، اندازې او څیزونو(جنسونو)مرستي سپارلو مرجعي څرنګوالي سره مالیې وزارت ته راپور وړاندې کړي. | - |

**د اجنډا دریمه موضوع:** د هیواد د نورو والیانو په استازیتوب د بامیانو والي د وړاندې شویو وړاندیزونو او خبرو په اړوند پریکړې ؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د بامیان والي؛

| **د کابینې پریکړه :** | | موده |
|---|---|---|
| ۳ - ۱ | پیښنو ته د رسیدنې په چارو کې د دولت وزیر دفتر ته دنده سپارل کیږي، چې د جمهوري ریاست لومړی مرستیال تر نظر لاندې پیښنو ته د رسیدنې په موخه ولایتونو ته د بودجې چټک لیږد په اړه اصولي ګامونه واخلي. | دوه اوونۍ |
| ۳ - ۲ | پیښنو ته د رسیدنې په چارو کې د دولت وزیر دفتر ته دنده سپارل کیږي، چې د وزارت او ولایتونو را رسیدلو راپورونو او په ځانګړې توګه د بودجې لګولو په برخه کې د شته توپیرونو څرنګوالی څیړي او پایله یې د قانوني ګامونو اخیستلو په موخه د جمهوري ریاست لومړي مرستیال ته وړاندې کوي. | درې اوونۍ |
| ۳ - ۳ | مالیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د اړونده ارګانونو سره په پوهاوي د مرستو ویش مرجعې په تثبیت د پیښنو څخه د راپیدا شویو ملکي شهیدانو کورنیو ته د مرستې ویش څرنګوالی تر څیړنې لاندې نیسي او د تصمیم نیولو په موخه یې راپور د جمهوري ریاست لومړي مرستیال ته وړاندې کوي. | یوه میاشت |
| ۳ - ۴ | پیښنو ته د رسیدنې په چارو کې د دولت وزیر دفتر ته دنده سپارل کیږي، چې د اړوند پیښنو پر وړاندې د مبارزې عالي کمسیون له تائید وروسته د بیړني حالت د مالي لګښتونو لایحه د تصویب په موخه وروستیو غونډو ته وړاندې کړي. | یوه میاشت |
| ۳ - ۵ | د ښار جوړولو او ځمکو وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې له ولایتونو د اړونده پروژو په تفکیک او د ولایتي هغو استملاکي سندونو هر اړخیز راپور، چې تراوسه یې پیسې نه دي ورکړل شوې، غواړي او له ارزونې وروسته توحید او د عدلي او قضایي کمیټې غونډې ته دې وړاندې کړي. | درې میاشتې |
| ۳ - ٦ | اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون ته دنده سپارل کیږي، چې د هغو شمیر ولایتي رئیسانو د ګمارنې په برخه کې چې تر اوسه ندي ګمارل شوي د ولایتونو ستونزو هوارولو په موخه دریو اوونیو په اوږدو کې ګامونه اخلي. | درې اوونۍ |
| ۳ - ۷ | اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون ته دنده سپارل کیږي، چې د یاد کمیسیون کمشنرانو په شتون کې د یوې اوونۍ په اوږدو کې په مرکز او ولایتونو کې د ریاستونو بستونو د سرپرستي علتونو او لاملونه، د سیمه ییزو بستونو ګمارنې لپاره د مشخصو معیارونو جوړولو څرنګوالی، د مشخصې مودې په تاکلو د سرپرستي او سمبالوونکی (وارسي کوونکی) او نورو اړوند موضوعګانې د یو راپور په ترڅ کې د حکومت رهبري غونډې ته وړاندې کړي. | یوه اوونۍ |
| ۳ - ۸ | عامې روغتیا وزارت او سیمه ییزو ارګانونو اداري ته دنده سپارل کیږي، چې د کرونا ویروس سره د مبارزې په ډګر کې د بهرنیو مرستو د غوره سمون او جذبولو په موخه د مرکز او ولایتونو د کمیټو د پریکړو پایلو سره یو ځای په ځانګړې توګه د کرونا ویروس سره د مبارزې د ولایتونو اړتیاو لړلیک (فهرست) او د حکومت رهبري غونډو اړونده هغه پریکړې، چې د کوید ۱۹ سره د مبارزې په ډګر کې د هیواد اړتیاوو پورې اړه لري؛ په هرو دوو اوونیو کې د بهرنیو چارو وزارت سره شریکې کړي. | دوامدار |

**د اجنډا څلورمه موضوع:** د جوماتونو، صنعتي او لوژستیکي پارکونو او د دولتي ودانیو جوړولو په موخه په ولایتونو کې د (۱۵) مواردو دولتي ځمکو څخه د ګټې اخیستنې حق لیږدونې غوښتنه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د ښارجوړولو او ځمکو وزارت سرپرست ؛

| **د کابینې پریکړه :** | | موده |
|---|---|---|
| ۴ | **د دولتي ودانیو جوړولو په موخه په ولایتونو کې د (۱۵) مواردو دولتي ځمکو څخه د ګټې اخیستنې حق لیږدونې غوښتنه:**<br>٤-۱ د (۱,٦٥۰,۰۰۰) یو میلون، شپږ سوه او پنځوس زره افغانیو ارزښت په بدل کې دمیدان | څلور میاشتې |

| د کابیني پریکړه : | موده |
|---|---|
| وردگ ولایت کې د جامع جومات جوړولو په موخه د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته د ( ۱۱ ) جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لېږدونه؛ | |
| ۴-۲ د ( ۵۰۶,۶۶۰) پنځه سوه شپږ زره او شپږ سوه شپېته افغانیو ارزښت په بدل کې د ارزگان ولایت کې د عیدگاه جومات جوړولو په موخه د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته د ( ۲۰ ) جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لېږدونه؛ | |
| ۴-۳ د( ۲,۰۰۰,۰۰۰) دوه میلیونه افغانیو ارزښت په بدل کې د خوست ولایت په مرکز کې د حضرت سلمان فارسي جامع جومات جوړولو په موخه د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته د (۲) جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لېږدونه؛ | |
| ۴-۴ د( ۳۲۰,۰۰۰ ) درې سوه شل زره افغانیو ارزښت په بدل کې د میدان وردگ ولایت کې د جومات شریف جوړولو په موخه د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته د ( ۴ ) جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لېږدونه؛ | |
| ۴-۵ د( ۲۵,۷۸۶,۲۵۰ ) پنځه ویشت میلون، اوسوه او شپږ اتیا زره، دوه سوه پنځوس افغانیو ارزښت په بدل کې د کندز ولایت کې د نمونوي جومات جوړولو په موخه د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته د ( ۷ ) جریبه (۷) بسوې او (۷) بسواسې دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لېږدونه | |
| ۴-۶ د( ۲,۱۰۰,۰۰۰,۰۰۰ ) دوه ملیارده، سل میلونه افغانیو ارزښت په بدل کې د ننگرهار ولایت کې د صنعتي پارک جوړولو په موخه د صنعت او سوداگری وزارت ته د (۱۵۰۰) جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛ | |
| ۴-۷ د( ۱,۲۶۷,۲۰۰,۰۰۰ ) یو میلیارد، دوه سوه اوه شپېته میلیونه او دوه سوه زره افغانیو ارزښت په بدل کې د ننگرهار ولایت کې د حصار شاهي صنعتي پارک جوړولو په موخه د صنعت او سوداگرۍ وزارت ته د ( ۱۰۵۶) جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛ | |
| ۴-۸ د( ۴۰۰,۰۰۰,۰۰۰) څلور سوه میلونه افغانیو ارزښت په بدل کې د نیمروز ولایت کې د صنعتي پارک جوړولو په موخه د صنعت او سوداگری وزارت ته د ( ۸۰۰۰ ) جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛ | |
| ۴-۹ د( ۳۲,۹۲۵,۰۰۰ )دوه دیرش میلیونه، نهه سوه پنځه ویشت زره افغانیو ارزښت په بدل کې د بغلان ولایت، خنجان ولسوالی اداري ودانۍ جوړولو په موخه د سیمه ییزو ارگانونو ادارې ته د (۵) جریبه، (۹) بسوې او (۱۵) بسواسې دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛ | |
| ۴-۱۰ د( ۱۰,۰۰۰,۰۰۰ ) لس میلیونه، افغانیو ارزښت په بدل کې د فراه ولایت د ښار جوړولو او ځمکو ریاست د قبالو او اداري ودانۍ جوړولو په موخه د ښار جوړولو او ځمکو وزارت ته د (۱۰) جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛ | |
| ۴-۱۱ د( ۲,۲۸۴,۷۷۴،۲۵ ) دوه میلیونه، دوه سوه څلور اتیا زره او اوه سوه څلور اویا اعشاریه پنځه ویشت افغانیو ارزښت په بدل کې د بامیان ولایت کې د دارالعلوم اداري ودانۍ جوړولو په موخه د (۸,۳۰۸۲۷) جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛ | |
| ۴-۱۲ د( ۲,۰۰۰,۰۰۰ ) دوه میلیونه افغانیو ارزښت په بدل کې د پروان ولایت، سید خیل ولسوالۍ د کرنیزو خدمتونو عمومي مدیریت ودانۍ جوړولو په موخه د کرنې، اوبو لگولو او مالداری وزارت ته د (۴) جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛ | |
| ۴-۱۳ د( ۴۰۰,۰۰۰ ) څلور سوه زره افغانیو ارزښت په بدل کې د کنړ ولایت د پېښو سره د مبارزې چمتووالي ریاست اداري ودانۍ جوړولو په موخه د پېښو سره د مبارزې چمتو والي ادارې ته د (۲) جریبه دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛ | |
| ۴-۱۴ د( ۵۵,۳۲۰,۰۰۰ ) پنځه پنځوس میلیونه، درې سوه او شل زره افغانیو ارزښت په بدل کې د کندز ولایت اداري کمپلکس جوړولو په موخه د سیمه ییزو ارگانونو ادارې ته د (۱۳۸) جریبه (۶) بسوې دولتي ځمکې څخه د گټه اخیستنې حق لیږدونه؛ | |

| | د کابينې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| | ۱۵-٤ د( ۲,۷۱۵,۴۸۰,۰۰۰ ) دوه میلیارده، اوه سوه پنځلس میلیونه، څلور سوه او اتیا زره افغانيو ارزښت په بدل کې د کابل ولايت د دارالامان اداري کمپلکس دریم فيز جوړولو په موخه د ښار جوړولو او ځمکو وزارت ته د (۷۱,۴۶) جريبه دولتي ځمکې څخه د ګټه اخيستنې حق لېږدونه؛ | |

**پنځمه موضوع:** بيلابيلې پرېکړې:

| | د کابينې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۵ - ۱ | د جمهوري رياست دويم مرستيال د ا.ا.ج سترې محکمې قاضي القضات، ا.ا.ج لوی څارنوال، په پارلماني چارو کې د دولت وزير په مرسته د تقنيني نافذه سندونو په بنسټ د ا.ا.ج د درې ګونو قواوو اړيکو تنظيم او د درې ګونو قواوو منسوبينو ترمنځ د اړيکو روښانتيا څرنګوالي په هر اړخيزه طرحه کار کوي او پايلې يې د کابينې وروستيو غونډو ته وړاندې کوي. | يوه اوونۍ |
| ۵ - ۲ | د جمهوري رياست لومړی مرستيال د حکومت رهبري په استازيتوب د عامې روغتيا وزير په مرسته په هيواد کې د کرونا ويروس اوسني حالت په اړه هيوادوالو ته هر اړخيزه وينا اوروي. | عاجل |
| ۵ - ۳ | د جمهوري رياست لومړي مرستيال دفتر ته دنده سپارل کېږي، چې د جمهوري رياست لومړي مرستيال تر مشرۍ لاندې د عامې روغتيا وزير، د نړيوال روغتيايي سازمان (WHO)، يونسيف (UNICEF) دفترونو او نړيوالو بانک استازو په ګډون غونډه جوړه او د يادو دفترونو لخوا د تجهيزاتو او طبي وسايلو رانيولو څرنګوالی تعقيب کړي. | دوه اوونۍ |
| ۵ - ۴ | په کرونا ويروس اخته کسانو ته د حکيم الکوزي لخوا د خپلسرو درملو ويشلو په اړه د عامې روغتيا وزارت انديښنو له منځه وړلو په موخه د جمهوري رياست لومړی مرستيال موضوع څېړي او د اړونده ادارو له لارې لازم ګامونه اخلي. | عاجل |
| ۵ - ۵ | عامې روغتيا وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې ياد وزارت د ورسپارل شويو مالي او اداري واکونو په بنسټ د ګمارل شويو کسانو، د اړتيا وړ وسايلو چمتو کولو او ښاريانو ته د خدمتونو وړاندې کولو په اړه هر اړخيز راپور چمتو او د کرونا ويروس خپراوي څخه د مخنيوي بيړنۍ کميټې له تائيد وروسته دې د کابينې وروستيو غونډو ته وړاندې کړي. | دوه اوونۍ |
| ۵ - ۶ | سيمه ييزو ارګانونو ادارې ته دنده سپارل کيږي، چې د جمهوري رياست چارو ادارې لوی رياست په مرسته د ويډيو کنفرانس له لارې د ولايتونو ستونزو ته د رسيدنې په موخه واليانو غونډه جوړه او پايله يې د حکومت رهبري غونډې ته وړاندې کړي. | يوه اوونۍ |
| ۵ - ۷ | وزارتونو، دولتي ادارو او واليانو ته دنده سپارل کيږي، چې د جينوا راتلونکي کنفرانس کې د افغانستان ژمنو راپور وړاندې کولو چمتووالي په موخه په کړنو کې روڼتيا او د اداري فساد سره په مبارزې لازم تمرکز وکړي. | دوامدار |
| ۵ - ۸ | د مالیې او عامې روغتيا وزارتونو ته دنده سپارل کيږي، چې د سيمه ييزو ارګانونو په مرسته د ا.ا.ج کابينې ۱۳۹۹/۳/۱ نيټې غونډې (٦) ګڼې مصوبې (۵ - ۲) بند پرېکړې په پام کې نيولو سره په مرکز او ولايتونو کې د کرونا ويروس سره د مبارزې په موخه د لېږدول شوی مالي لګښت څرنګوالی چمتو او د کابينې وروستيو غونډو ته دې وړاندې کړي. | دوه اوونۍ |

- د مصوبې پلي کېدو څخه څارنه د جمهوري رياست چارو اداري لوی رياست د کابينې چارو سمون رياست په غاړه ده.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**